گهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنه

# مطبوعاتي اعلامیه

**ګهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنه**

**نیټه: 14/09/1397 لمریز**

ګهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولني په ډېرې خواشینۍ خبر ترلاسه کړ چې تېره ورځ (سه شنبه د لیندۍ ۱۳) د انعکاس راډیو تلویزین رییس او په ننگرهار کې د ملي راډیو تلویزیون پخوانی مشر **انجنیر زلمی** د نا پیژاندو وسله والو له خوا د جلال آباد ښار له یوې امن سیمې څخه تښتول شوی دی. ګهیځ ټولنه د دې پیښې د غندلو تر څنګ په امنیتي ارګانونو غږ کوي چې د ژورنالیستانو او رسنیو د کار کوونکو امنیت خوندي کړي او د تښتوونکو له منګولو د ښاغلي انجنیر زلمي د را خلاصولو لپاره لاس په کار شي.

ګهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنه